# له تاسو څخه الله جل جلاله د هېچا لمونځ نه قبلوي کله چې اودس مات کړي تر دې چې اودس وکړي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: "له تاسو څخه الله جل جلاله د هېچا لمونځ نه قبلوي کله چې اودس مات کړي تر دې چې اودس وکړي".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بیانوي چې د لمانځه د صحت لپاره یو شرط پاکوالی دی، نو څوک چې د لمانځه اراده وکړي اودس دې وکړي که چېرته يې له اودس ماتوونکو څخه په یو اودس مات شوی وي؛ لکه ډکې او تشې متیازې کول؛ خوب او داسې نور.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3534